
بیا پسرلی شو ، خو ...

پسرلی د هغه قاصد نوم دی ،

چی د کاینانو هرعنصر ورته سترګی پرلار وی .

– دیو ستوماتوونکی ژوند د پای زیری ورسره وی ، د ځوریدلیو د تورتم برخلیك د لمرځرك وړانګی خپروی .

–د فان مع العسر یسراً ، ان معه العسر یسرا ژوندی تعبیروی .

– له یوی ځورووونکی فضا نه د را وریدلی غم – زغم بیره او محصول وی .

– تریخو او نغښتو زیات تری لوږ اوبرېند لذت وړی .

–په خوندیی ترمعشوقانو زیات عاشقان پوهیږی .

– د پانریژ(ملی) له ځیګره د خپلی فطری ترمی د کسات چاره یوته وباسی .

اوبالاخره !

پسرلی د هغه موعود مسیح نفخ (پوکی) دی ، چی پخپل راتګ سره د ځپلیو کایناتو په مړه کالبوت کی د امید ساپوکی .

خو دا هرڅه هله !

چی د کایناتو عناصر وته د فطری اوطبیعی ژوند تیرولو حق ورکړ شوی وی . چی د ستوماتوونکی ژوند د زوال عواملوته له مخکی نه لارا واره شوی وی.

چی دځوریدلیو د تیارهبرخلیك د روښانولو مشال په لاس مخکښان هم له خپل ملت نه د بېلتانه احساس ونه کړی .

چی د ولاتهنو ولا تخرنوا په ګانه سمباله ټولنه دخپل معبود ذکروکړی ، چی ذکر یی وکړای شی .

چی د ویر له آسمانه د اووریدنی بارانه ته یواځی د مقدس اجتماعی اوملی هدف لپاره سینی للمه شی .

چی تر پټوبی په لوځو کی د لذت پراحساس سر بیره دمقاومت او ټینګار ماده پیاوړی وی .

چی عاشقان بی پردی مؤمن وی چی :

هنګامه د مینی ګرمه ده ترحسنه

د مجنون ددر ګدا شه لیلی مه شه

دادب ورمې

ددی مخ چلوونکی : محمدآصف «صمیم»

د شعر اوشاعری دری شکلونه

د روحیاتو دعلم پوهان وایی چی ژوند په خپله په دریو شکلونوکی ځان ښکاره» کوی . د هغه دغه څرګندونه دحس کولو ، پوهیدلو او عمل کولو په ذریعه کیږی ، د همدی کبله که چیری د روحیاتو د دغو اصولو په اساس شعر شاعری تجزیه کړو ، نومعلومه به شی چی د شعر شاعری ذهنی عمل اوکړنه هم د هغه سره مطابقت لری ، یعنی دلته د شعر شاعری په ژبله دغو دری واړوته رزمیه ، بزمی اوتمثیلی ویلی شو ، ځرنګه چی د ژوند دغه دری واړه شکلونه په خپلو کی یو په بل باندی تاثیر اچولی ، همدا رنګه په شعر شاعری کی هم رزمی ، بزمی اوتمثیلی اشعاریوبل متاثرکوی . موږ وینو چی شاعر دخپلو خیالاتو اظهارپه یوه مخصوصه ذهنی طریقه سره د شعر او شاعری په شکل کوی . که چیری شاعرد انسانی طبیعت څرګندونه په سکه سیخه توګه سره وغواړی ، نوهغه ته تمثیلیه یعنی په درامه کی مرسته ورته سرېښتل کیږی .

که چیری د هغه څرګندونه په بیانیه توګه وی او د خپلی هیرو بهادری او کارنامی وړاندی کول غواړی، نوشعرو د رزمیه په شکل ویل غواړی اوکه چیری د خپلو ذاتی احساساتو د څرګندونی غوښتنه کوی ، نو بیا په بزمی توګه خپل شعروړاندی کوی . اوس په ښه دا وی چی یو لږ څه تفصیل سره د شعرپه دغو دری واړو دولونو باندی خبری اتری وکړو :

رزمی شعر :

په رزمی شعر کی د جګړی اوقهرمانی د کارنامو یادونه اوبیان کیږی . د لته د هیرو د بهادریوته خبری اتری کیږی . په عامه توګه سره هیرو په یوه نسل ، قوم اویا نژاد پوری تړلی وی . دهغه نژاد ترشا ډیر زیات روایتونه و ی. د همدی کبله په دی دول اشعارو کی کله مافوق الطبیعت عناصر په څرګنده توګه سره پراته وی ، حال دا چی دا د رزمیه اشعارو د پاره کوم حتمی شرط نه ګڼل کیږی . په رزمیه کی هری خواته حرکت په نظر راځی . دهغه مواد په عامه توګه سره د شاعر د ذهن ایجاد وی . که چیری په هغه کی کوم حقیقت وی ، نو دهغه حقیقت حیثیت د شاعر دخپل متخیله قوت په مرسته سره جوړیږی . د مثال په توګه سره لکه فردوسی چی دخپل هیرو رستم په برخه کی وایی :

منم کرده ام رستم پهلوان

وګرنه یلی بود در سیستان

په رزمیه کی یو خاص ډول عظمت وی . دغه عظمت اولریونه یوازی دهغه په خیال کی نه وی ، بلکه د هغه د بیان په اسلوب کی هم یو شان شوکت وی . په هغه کی یو ه خاصه پیښه په ډیره مبالغه آمیزه توګه سره بیانیږی ، او دخیال په شان الفاظ هم په خپل آهنګ سره د موضوع رنګ آمیزی کوی . په دی توګه سره واقعه او پیښه د خپل ټول جاه او جلال سره مخی ته ایښودل کیږی . په رزمیه کی مکالمی او خبری اتری هم وی . دغه خبری اتری د بیان د شدت او زور سره مرسته کوی دهغه د عمل میدان پراخ وی . د هغه په داستان کی یو شمیر کردارونه او بی شمیره پیښی وی . شاعر د خپل تخیل د قوت په زور سره ستری مانی آباد وی . د رزمیه ترټولو غوره مثالونه په یونان کی د هومر دایلیډ«او داودیسی » د انګریز مشهور شاعر ملتن «بېرادایس لاست » یا «ورك شوی جنت » د فارسی ژبی شاعر فردوسی «شاهنامه » د والمیکی اوویاس « راماین »او «مهابهارت» او داسی نور دی .

دغونچی د رباط ور په واکیدو دی
قافله د رنګ وبو د رومی سباشو
شیدا

بسوللـه

عبدالقادر خټك

شګفته په باغ او راغ شول د بهارګل
هم په بام هم په کوڅه هم دیوارګل
نه یواځی ګل د ګلبوټی ویشو
بادام ګل ، شفتالو ګل ، ویتو انارګل
هر اشیا د ځکی ګل پروردګار کړه
جمادات ګل ، نباتات ګل ، کل اشجار ګل
کانی بوټی خاروخس په ګلو پټ شول
دهمه واړو عیبونو شو ستارګل
چی د سترګو نظر لګی واړه ګل دی
وړاندی ګل ، د وروستو ګل یمین یسارګل
هیڅ یو ځای خالی له ګلو پاتی نه شو
په بازار ګل،په صحرا ګل ، په کهسارګل
که آسمان په شپه په ستوریو ښایسته وی
لاتری ځکه ښایسته کړه په بهار ګل
عندلیب تاری وهی چی سپل کاپی ،
بهار د رومی ریږدون کارار په وارګل
لاتر کور،کوردید پروت په ګور کی ښه دی
چی به نه کوری سرکال ددی ګلزار ګل
د بهار په سپل جونه ، زلی کښیږدی
په وریل ګل ، په پټکی ګل،په دستارګل
د بهار په سپل وځو څه له کوره
د راتللو دی هرګور ډیر کا انتظار
چی ګلونه یویوی احتیاط یویه
چی په شونډ و دی ونه کاندی پرهارګل
خاص وعام پی بهره من په ننداره شول
منتونه په هر چا باندی کړه یار ګل
چی د یار له وصله ښاد وی ګل په ګوری
د مهجور به هرګز هیڅ نه وی په کارګل
چی بی یاره د بهار په سپل درومم
په خاطر باندی می لګی لکه تارګل
چی داغسی بی په وکه خوله ،خندا کړه
مګرنه و له خزانه خبردارګل
بلبل هیڅ نه وخبر د عشق له تاوه
په فریاد کړ، په ناړو کړ، په چیغاد ګل
چی نښان د خپل آشنا ورځنی موسی
ځکه یاد عبدالقادر کړه په تکرا ر ګل

د پښتو د لومړنی پسرلنی بوللی یوه برخه
ښکارندوی

د پسرلی ښکلونکی بیا کړه سینګارونه
بیابی ولونل په غرونو کی لالونه
ځکه شنه ، لاښونه شنه ، لمنی شنی شوی
طلیسان زمرږی واغوستل غرونه
دنیسان مشاطی لاس د مجیدودی
مرغلرو بیاندی و ښکلل ښهونه
دغنهولو جندی ځاندی وریدی ته
زرغونه ښهوکی ناځی زلی جونه
لکه ناوی چی سورتیك په تندی وکا
هی وګاڼل غنهولو سره پسولونه
مرغلری چی اورو وخوتولیه
په ځلایی شوه راته خپاره دښتونه
زرغونو مخکوکی ځل کالکه ستوری
چی پرهسك باندی ځلیږی سپین ګلونه
سپیتنی واوری ویلیده کاندی بهیږی
لکه اوښی د مین په ګریوانونه
هر پلورنی ولی بهاندی خاندی
له خوښیه سروهی له سنګرونه
دمسیح په یوبه مړو ژوندن بیاموند
پسرلی مګر مسیح شو په پو کړنه

د پسرلی توتکی

برمحمد کاروان

په سپینو واوروکی رسکی شول زر زری ګلونه
د ښکلی لمر د پلو شو ګلونه
لکه چی پیغلی وی ټومبلی د مرجانو غمی
د سپین ټکری د پاسه
د پسرلی دبمی د ژمی غیږکی وغځیدی
په مرغیجنو هیلو راغی مسیح
وحشی ګلونو شنی جامی واغوستی
د مالبارانو محتاجی نه کوی
زموږ جونګړی ته هم راغلی ښایسته توتکی
جوړه جوړه توتکی
لکه چی راشی د فردوس له غیږی
د معشوقی او دعاشق روحونه
زموږ انګړکی یی اتڼ واچاوه
او په غنج غنج کی یی د ژوند ترانی وویلی
رنځوری مورمی ورته څه په مینه ووی :
«توتکیو ستړی مه شی ستړی مه شی »
توتکی خلاصی کړی مینو کی اوغنج غنج یی وکړ
څه په خندایی ورته و وی چی ژوندی اوسی
زما د زړه په تالا شوی باغ کی وټوکیدل
د امید ونو ګلان ،

بهارته

غمخور

ځه پخپلو ویشورنګ یم ، له رنګونو نه بیزاریم
د بهار به څه منت وړم ، چی د یار د غاړی هاریم
خو شبویی زما د وینو سرلوبی کوی په مشکو
بی نیازیم له نسیمه ، زه لاله د کهسار یم
غلبلی د نام ونګ می آسمانو تو ته رسیږی
هنګامه مړنویم ، د بسمل مرغه چغاریم
زمزمه یم جاویدانه د ازل ابد به شونډو
تازه ګل ! خوبی نیازه له خزان اوله بهاریم
د فطرت په حدیقه کی می عالم په تماشا دی
دخپل رنګ له برکته ، د همه رنګونو پلار یم
ز ر بهاره مالیدلی ، رزخزانه ماکتلی
چی ماضی پری ښایسته دی،دهغه کاروان غباریم
چی تاریخ پری کوی فخراوملت پری کړی تازونه
زه د هغو لاسو توره ، زه د هغه سردستاریم
دغیرت په ځوکه ناست یم،دخودی په نیلی سوریم
چی بی مرګ نه شی وژلی د هغو میو خماریم
په رنګونو ، په خوندو نونه کړلی بهار ،
زه اخته د قام په ویریم ، د غمجنو غمګساریم .

پسرلی

بازمحمد عابد

وخت به موږ له ځنګه ګلورینه فضا جوړه کړی
غږ د پسرلی وی ، خوله ورایه خزان وخاندی
لا د ګلغو تیو ستونی دك وی له باروتونه
تاته به په کومه خوله پسرلیه ګلان وخاندی
****
پام کوه پسرلیه چی زموږ کلی ته رانه شی
ته به د باروتودی وطن ته څه تحفه راوړی
اوس زموږ دکلی چینوونه خالی نه لری
ته به د بلبل د غم نوا ته څه نغمه راوړی

پسرلی په لنډیو کی

خدایه پسرلی شو ګلان ګل شوه
سپرلی به بیا په ګلو راشی
پسرلی راغلی ونه شنی شوی
پسرلی کی مړه بوټی زرغون شی
سپرلی راغی ونی شنی شوی
پسرلی راغی ونی شنی شوی
زما دزړه ونی پلی وهلی دینه

زما د زړه ګلان سهیل وهلی دینه
خزانه ولی رژوی مړاوی ګلونه
زما د زړه ځانګی سهیل وهلی دینه
زرغون به نه شی خاوری شوی بډونه
زما ناښاد زړګوټی وا وری وریږنه

د بهار ګلونو !

همیش خلیل

ځومره ښایسته ، ځومره حسین ښکاریږی
ځنګه تازه ، تازه رنګین ښکاریږی
لکه د ستورو ، د آسمان په چمن
مسکی مسکی او دلنشین ښکاریږی
****
خو دبهار ښایسته ښایسته ګولونو !
په محبت کی پامال شوو زړو نو !
چی کله تاسو پژمرده وینم
د بدخشان دانه وانه لالونو
****
ماسره غم شی ، پریشانی غوندی شم
خزان وهلی ګلستان غوندی شم
چی درته ګورم اسویلی شمه زه
پر زهره چاودی ګریبان غوندی شم
****
شاید دا ځکه چی انجام مو یودی
سحرمو یو د ی ، هم ماښام مو یودی
تاسو چمن زه د وطن د پاره
ژړی مو یلی ، خو پیغام مو یو دی

غزل

ملا اسدالله حنیفی

خلکه ورځم د تویسی ورماتوم
شومه روان د میخانی په طرف
نن می آشنا دومره په زړه وریږی
رقیبه نورمی د زغم وسه نشته
دایه ترځو دخپل آشنا په سیمه

دهجرتنده په ساغرماتوم
ترخه جامونه په تبر ماتوم
چی تړلرځکه په سنګرماتوم
یا به خپل سریا به دی سرماتوم
په غلچکو سترګو نظرماتوم

ما (حنیفی)نیت د قیام کړی دی
دانتظرو نه به لر برماتوم

پېښور – ۲٤-۳-۱۳۷٤ هـ ش

ما او تا دی خدای ...

دوخته چلپاراکیلي وي ، زما یوه پاکستاني انهبوال چي لـه افغانستان اوافغانانوسره ډیر نژدي پاتي شوي پرون راته وویل : دا دومره امریکائي او دنوروبهرنیوهیوادو مؤسسو چي ستاسي سرکونه جوړول او امریکا په هرسل متري کي وسپنیزي لوحي هم پري لګولي وي پري مو څه اعتراض نه کاوه چي اوس دپاکستان لـه خوادسرك په جوړولو برګ برګ کیږي . ده وویل پاکستان خوموخوري نـه ، سرك درته جوړوي ، دامریکایي مؤسسوله سرك جوړولو مویدنه منل، هغوي له چانه اجازه غوښتي وه ، له کوم دولت اوحکومت اوپاهم تنظیم سره بي ترون لاسلیك کړي و چي اوس بي پاکستان لاسلیك کړي .

شکراوپاسي کښېښو .

ده زیاته کړه : تاسي ته خرټول سرکونه پاامریکا جوړکړي پاشوروي اوپاهم جرمن ترڅه وشول چي دابوسرك درته پاکستان جوړکړي .

هوا زموږ سرکونه وران دي وطن موووران دي داوران سرکونه اووران وطن جوړیدل غواړي خوبوښته داده چي زموږ سرك او وطن وران چاکړ؟ او لګیادي وړانوي یی څوك ؟ هسي نه چي دهغه هندوخبره جوړه شي چي : خان هم داکوي هم دا .

مشهوره کاکړي لنډي ده چي: ما او تا دي خداي لري – سرك به جوړشي سرکاري ، چي زموږ داحال وي نوداوراني اوآباد به هنداسي دوام ولري .

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبر مسلسل (۱۱۰۰) سال هژدهم یکشنبه (۲۷) حوت ۱۳۷۵

قیمت یک شماره (۳۰۰) افغاني ۳ روپیه

نبوی لارښوونی

له حضرت ابوهریرة (رض) نه روایت دی چی حضور (ص) فرمایلی دی : الله تعالی فرمایی : دری کسان داسی دی چی د قیامت په ورځ به و رسره زما جګړه وی . ۱- هغه سړی چی زما په نوم یی وعده وکړه بیایی ماته کړه .۲- هغه سړی چی یو آزاد بنده یی خرڅ کړ او دهغه قیمت یی وخوړو .۳- هغه سړی چی د څه کار له پاره یی مزدور ونیو ، نود هغه نه یی کار پور واخیست او مزدوری یی (پوره)ورنکړه .

(بخاری شریف)

احکام دین خودرابیاموزیم

۷ - تدبروترتیل درتلاوت قرآن مجید

حق تلاوت قرآن مجید دراین است که بااحتیاط وتوجه کامل، وباحضور قلب وآمادگي خاطروهمراه باذوق وعلاقه خوانده شود ودرهریك ازآیات غور وفکر گردد. رسول اکرم (ص) یك یك حرف راواضح نموده ویك یك آیه راجداجدا میخواندند .

« ورتل القران ترتيلا »

«وقرآن رابا دقت وتأمل بخوان » (المزمل : ٤)

« كتاب انزلنه اليك مبرك ليدبروا ايته وليتذكراولوالالباب »

«این کتابي است پربرکت که برتو نازل کرده ایم تادرآیات آن تدبرکنند وصاحبان مغز(واندیشه) متذکرشوند ». (ص : ۲۹)

واعدوالهم ما استطعتم من قوة - اقليم التفاح - چهارشنبه : مجاهدین حزب الله لبنان ، درعکس العمل ؛ مذاکرات شرم الشیخ ، مواضع نظامی اردوی جنوب لبنان رامورد حمله قرار میدهند.

د روداتو په ولسوالی کی دکورجوړولو دیوی ستری پروژې دنمرورش پیل شو

په نوموړی پروژه کی چی په عصری اوښاری نقشه جوړیږی ، جوماتونه ، روغتونونه اوښوونځی هم په پام کی نیول شوی دی

ننګرهار - دکب ۲٦ مه :

دننګرهار دولایت درودداتوپه وسوالي کي دکورجوړولو پروژه پرانیستل شوه .

دننګرهارله ولایت څخه دشهادت خبریال خبرراکوي چې: په دي وروستيو ورځوکي دننګرهار دولایت درودداتوپه ولسوالي کي دکورجوړولو دیوي ستري پروژې دڅرو ویش پیل شو . درودداتوپه ولسوالي کي دکورجوړولو په نوموړي پروژې دڅروله ویش وروسته په هغې کارپیل شوې دنوموړي ولسوالي نفوس دېخوابه پرتله اوس زیات شوي دي اودولسوالي قومي مشرانو و پشیله چې دولس دځېلو امکاناتو سره سم درودداتودولسوالي مربوط دښته اوځرځايونه دولسوالي اوسیدونکوته دکورونو دجوړولو په مقصدیه څرو وویشي .

دکورجوړولو نوموړي پروژه په عصري اوښاري نقشه جوړیږي، په پروژه کي له کورونوپربېړ جوماتونه ،روغتونو له اوښوونځي هم په پام کي نیول شوي دي.

دوهلي پروژي دڅرودویشلوکارچې دشهید معلم امین کورني ته دڅروپه ورکولوپیل شو،اوس شپږ زرومستحقو کورنیوته څري ویشلي دي .

خبریال زیاتوي چې نوموړي پروژه په ننګرهارکي دحزب اسلامي دجهاد امیر اودلومړي ټمبرقول اردو قوماندان دګجنرال فضل الحق «مجاهد» پــه وینارسره پرانیستل شوه، دپرانیستلوپه دغو مراسموکي دحزب اسلامي دارشاداوفرهنګ رئیس اودحزب ویندوي استاد قریب الرحمن «سعید» ،درودداتودولسوالي ولسوال مولوي نجم الدین «ستوري» ،جهادي قوماندان حاجي عجب خان، دولسوالي دامنیي قوماندان عبدالمتین ، دجلال آباد دښاردګارنیزیون قوماندان انجنیرعبدالله اودرودداتودولسوالي عالمانو، مشرانو، سپین ږیرو اوګن شمیر اوسیدونکوبرخه اخیستي وه .

زمان آزادي پیلوتان اسیر روسي عنقریب مشخص مي شود

وزارت خارجه روسیه

قندهار - ۲۵ حوت :

زمان رهایي پیلوت هاي روسي که ازهشت ماه به این سو دراسارت طالبان درقندهار بسرمي برند عنقریب معین ومشخص خواهدشد .

یك مقـام وزارت خارجه روسیه به خبرگـزاري انترفکس درمسکو گفت : رهبران طالبان طي تدویرجلسه اي در قندهار علاوه بر مذاکرات روي موضوعات مختلف، آزادي عمله طياره روسي «ایلوشن ۷٦» رانیز تحت غوروبررسي قرارداده اند .

معاون وزیرخارجه روسیه گفته است طالبان باید طبق وعده قبلي خود زمان رهایي اسراي روسي را اعلان مي کرد اماشاوورلیس جمهورتاتارستان که طیاره مذکور متعلق به یکي ازشرکت هاي این جمهوري است، مـي گـوید: طالبان مذاکرات درمورد رهـايي اسراي یادشده راجدي نمي گیرند.

وي اظهارآمادگي کردکه حاضراست بخاطرگفت وشنود فوري با رهبران طالبان شخصـاً وارد قندهارافغانستان گردد و مسئله رهـايي عـمله طیاره مذکوررا باطالبان درمیان بگذارد .

دګروزني دښار په جنوب لویدیځ کی د روس دیرغلګر پوځ حملی دوام لری

د روسي پوځ لخوا دبامبوټ پرکلي باندی هوایی اوځمکنی بریدونه روان دی

ګروزني - دکب ۲٦ مه :

دګروزني دښارپه جنوب لویدیځ کي دروس دیرغلګروعسکرو اودچیچن دآزادي غوښتونکو مبارزینوترمینځ سختې جګړي رواني دي .

دنړیوالو خبري منابعو په حواله ویل کیږي چې : دګروزني دښـار په جنوب لویدیځ کـي دروس دیرغلګرپوځ حملي دوام لري .

ورمه ورځ پــه ماسکوکي دروسانو رسمي مقاماتواعلان وکړ چې دچیچن دبحران دحل لپاره نوي طرحه لري . خوپه ماسکو کـي دروسـانوددغي اعلان څخه له۲٤ ساعته نه ؤ تیرشوي چې دروس یرغلګرپوځ دګروزني دښارپه جنوب لویدیځ کي دازادي غوښتونکو مبارزینو په سنګرونوباندي نوي حملي پیل کړي .

دانترفاکس آژانس خبرورکړي چې : یرغلګرخواکونه تراوسدي اوپرله پسي ځمکني اوهوائي بمباري وروسته دبامبوټ کلي ته ننوتلي ترڅرپه نوموړي کلي کي دآزادي غوښتونکو مبارزینو سنګرونه له منځه یوسي . پـه داسي حال کي چې دانترفاکس دخبري آژانس دغه ورکړل شوي خبر دازادو منابعوله خوا نه دي تائید شوي ، خــود بامبوټ دکلي دپرله پسي اودوامداري بمباري وروسته دروسیي ددفاع وزیر پاول ګراچوف ویلي دي چي : دروسیي دپوځ لښکري به په چیچن کي مخالفین په کلکه وځپي .

دګروزني دښار په جنوب لویدیځ کي دروس دیرغلګر پــوځ وروسي حملي دچیچن دبحران پــه ورانــدي دروسي دحاکمانو دوه مخي سیاست په ډاګه کوي. دماسکو واکـــداران دروسي دخلکو اونړیوالي ټولني دډاډهاوینلخلطولو په خاطر په رسمي تـوګه اعلانوي چې دچیچن دبحران سولــه ایزحل لټوي اودنوموړي بحران دحل لپاره نوي لاري لټولي خوعملاً دچیچن دازادي غوښتو نکو مبارزینو دځپلوپه خاطر دځېل یرغلګرپوځ دجنګي ماشین نه په ډیري بي رحمي سره کاراخلي.

شبکه

شهریان کابل نبوده وهروقتیکه زمینه ارسال برق مساعد گردد حزب اسلامي آماده هرگونه همکاري درین زمینه است که درین اواخربعدازترمیم پایه هاي برق ولین هاي آن اینك شب گذشته جریان برق مذکور از ماهیپر بـه کابل آغازشد وتعدادمحدودي ازشهریان کابل ازروشنایي برق استفاده میثمایند .

قابل ذکراست که پایه هاولین هاي برق شهرکابل حدود دوسال قبل به اثر راکت باري وبمباران آسیب دیده بود و ازآن هنگام تاکنون شهریان کابل ازنعمت برق محروم بودند.

مساعی هیئت

که بـه هیچ صورتي حاضربه مذاکرات وگفتگو بااداره کابل نبوده ونخواهدبود .

به گزارش روزنامه جنگ معصوم «افغاني» عضوشوراي مرکزي وسخنگوي طالبان درکویته راجع به دیدارداکترصادق ابونقیبه مشاورخاص محمودمستیري بارهبران طالبان درقندهار اظهارداشت . ملاربانی معاون جنبش طالبان طي دیدارش با ابونقیبه خاطر نشان کرد که گروه طالبان هیچگاه آماده مذاکرات وگفتگوبااداره کابل نبوده ونخواهند بود وبه نظراین گروه(یگانه راه حل بحران افغانستان) کناره گیري بلاقید وشرط استادرباني ازقدرت است .

معصوم «افغاني» افزود : رباني خون شهدا راپامال نموده ویکي ازثبوت هاي آن شرکت کمونست ها درقدرت و تقرر آنهادریست هاي عالي دولتي درکابل مي باشد .

په شمال کی د

تنظیمونه دي، اودوي ترمینځ هیڅ ډول اختلافات وجودنلري.

نوموړي وویل، دبغلان دپیښو په باب دهماهنګي شورا دیوه مشترك هیئت له خواڅیړني اوپلټني رواني دي اوان شاء الله ددي څیړني نتایج به دېرژر په ډاګه شي .

هغه پدي خبره ټینګاروکړ چي دبغلان په ولایت کي هم اوس هیڅ ډول اختلافات نشته ، اودهماهنګي شورا ټول قوتونه له یوبل سره دوستانه اوصمیمانه همکاري لري.

طی حمله مبارزین مصری:

جنرالان مصری جراحت برداشتند

قاهره - ۲٦ حوت :

منابع امنیتي رژیم مصراعلان کردند درحمله اصول گرایان مسلمان درجنوب این کشوروونظامي بلند پایــه مصري زخمي شده اند .

براساس گزارش خبرگزاري آلمان جنرال احمد نواز وجنرال سعـید عـمرصالح افرادگارد ضد شـورش مصر درجاده ئي درنزدیکي شهرمـالاوي هـدف گلوله انقلابیون قرارگرفتند .

براساس این گزارش مبارزان مسلح پس ازانجام این عملیات موفق به فرارشده اند .

جهاد افغانستان

توضیحات دادنـد . برادر حکمتیارضمن یادآوري از مجاهدت هاي ملت ماواثرات نیك آن درمیان جنبش هاي آزادیخواه گفت : امت اسلامي درنتیجه مجاهدت شمابیدارگردید . همـه شاهداند که درکشمیرجهاد بااین انگیزه وامیدآغاز وحرکت هاي جهادي نیرومند گردید که مي گفتند اگرمجاهدین افغان میتوانند روس راشکست بدهند ، ماچراقیتوانیم هندرا که به مراتب ضعیف ترازروسیه است شکست بدهیم . به همین طریق در فلسطین ، بوسنیا، تاجکستان ، آذربایجان ودرتمام گوشه وکنارجهان مبارزه علیه اشغالگران آغازشداوج گرفت .

امیرحزب اسلامي فرمودند : کمونیزم که خـواب تسلط برتمام جهان رامیدید ومعتقد بود کــه عصرکنوني ،عصر حکمروایي کمونیزم است ولي به فضل خداوند متعال (ج) درروي زمین نهایت تضعیف گردید وامپراتوري آن تارومار شد.

ایشان بابرشمردن گوشه دیگري ازنتایج وثمرات جهاد فرمودندکه این همه کامیابي وافتخار نصیب ملت ماگردید بنابراین اگرفردیاافرادي بخــواهند بــا شیوه هاوعملکردهاي گوناگون جهاد ومجاهدین را بدنام سازند، آنهامفسدوگنهکاراند باید جلوفساد شان گرفته شود.

بنابرهمین گزارش امیرحزب اسلامي بعداز اداي نمازجمعه به مقرامارت حزب اسلامي برگشتند.

اتحادیه اروپا خواستار قطع

متازعه وتشکیل حکومت وسیع البنیاد درافغانستان اعلان نمود .

همچنان اتحادیه مذکــور کــه یکي ازمنابع مهم کمـك رسـاني بشـري درافغانستان است درادامه اعلامیه اش ازکمك هاي سازمان ها وادارات خیریه بین المللي اظهارسپاس وقدرداني کرده است اتحادیه اروپا به کمیته صلیب سرخ بین الملل که اشیاي ضروري رابه کابل مي رساند، نیز همکاري دارد .

اتحادیه اروپا باردیگر تاکید نموده که علاوه برمساعي سازمان ملل ازهرگونه کوشش صلح جویانه بین المللي براي حل مسالمت آمیز قضیه افغانستان حمایت وپشتیباني مي کند .

اتحادیه اروپا دراعلامیه اش متذکرشده که کشورهاي خارجي بخصوص همسایگان افغانستان ازدخالت درامورداخلي این کشور خودداري نموده از ارسال تجهیزات نظامي پرهیزنمایند.

درین بیانیه که روزجمعه دربروسل انتشاریافت ۱۵ عضواتحادیه اروپا از همه گروه هاي درگیرخواستارترك مخاصمه وآزاد گذاشتن راه هاي مهم به کابل جهت ارسال کمکهاي اولیه به مناطق مورد نظر ومردم نیازمند گردید.

دربیانیه این گروه پانزده عضوي تذکررفته که « آنهانسبت به ادامه جنگ ودرگیري درین کشورجنگزده بخصوص حملات راکتي وهوایي برکابل وحومه هاي آن عمیقاً نگران اند ».

سردار آصف احمد علی درجریان سفربه جمهوری های آسیای میانه ، قضیه افغانستان را مورد بحث قرارداد

کشور های همجوار درحل بحران افغانستان مؤثر واقع خواهند شد

در رابطه به باز پس گیری هرات ، نشانه هایی ازاقدام عملی بچشم نمی خورد

سخنگوی وزارت خارجه پاکستان

اسلام آباد - ۲۵ حوت :

سردارآصف احمدعلي وزیرامورخارجه پاکسـتان طي سفـرش به جمهوري هاي آسیاي میانه عـلاوه بربررسي مسایل وموضوعـات ذي علاقـه ، حل بحران افغانستان راباسران آن جمهوري هامطرح مي نماید .

به گزارش روزنامه جنگ یکتن ازسخنگویان وزارت امورخارجه پاکستان دررابطه به سفرآصف احمد علي گفت: پاکستان براي پایان یافتن هرچه زودتر درگیري هاواستقرارصلح و ثبات در افغانستان مصمم به مذاکرات وگفتگوهاي مفید وثمربخش با کشورهاي همسایه وهمجوارافغانستان مي باشد .

سخنگوي مذکور اضـافه کردکه بخش مهم سفروزیر امـور خارجه پاکستان به جمهوري هاي آسیاي میانه روي همین هدف صورت گرفته است .

این سخنگودرمورد این گزارش هاکه، ایران تورن اسماعیل خان رابراي بازپس گیري شهرهرات ازتصرف طالبان کمك مي کند وهمچنان اداره کابل قواي تقویتي به سرحدهرات مي فرستد تا به یك تهاجم وسیع وفیصله کـن برهرات دست زنند، گفت : این موضوع تیوري بوده وتاکنون نشانه اي ازگام هاي عملي دراین رابطه بنظرنمي رسد واگر تهران دست به این اقدام بزند، تخـت ازهمه اسلام آباد رامطلع ومطمئن مي سازد .

گزارش دیگـري حاکیـــت که سردارآصف احمدعلي پیرامون مسایل مربوط به رقابت هاي تسلیحاتي درمنطقه ،مسایل مربوط به کشمیر وافغانستان حین دیداربا سران ازبکستان بحث ومذاکره نموده اسـت. گفته میشودطرفین که خواستار استقرارعاجل صلح وامنیت دراین کشوراند بـه تلاش هاي مشترك درین راستاتوافق نموده اند .

دهرات دمسلمانو

همدارنګه خبرونه وایي په کابل کي هم دحوت ۲٤ مه ، دهرات دمسلمانوخلکو دمظلومانه قتل عام کلیزه دیوي غونډي په ترځ کي ولمانځل شوه .پدغه غونډه کي هم پرتورو کسانوسربېره سیدنوراللہ «عماد» خبري وکړي، اودهرات دخلکوزړورتیااو شهیدپالنه یي وستایله .

ورورحکمتیار

دقوم مشرانواوسپین ږیرو ملاګل محمد، فیروزخان، حاجي نواب خان، حاجي عمران خان، حاجي سیداګل اودعلیشګاردولسوالي مشرانو هریو مولوي ګل میر، داکتر فقیرمحمد، مولوي بادشاه خان ،رازمحمد «خادم»، حاجي صدیق الله اوجمال خان اوځیني نور ګدون درلود.

منبع وویل په دغه کتنه کي چې ترغرمي مخکي دلغمان په ولایت کي ترسره شوه لمړي نوموړو مشرانو اوسپین ږیرو دځپلوسیمو دمشکلاتو په باب ورور حکمتیارته مفصل معلومات ورکـړل او دحزب اسلامي دمقاماتونه یې دمشکلاتو په حل کي دمرستي غوښتونکي شول چې دحزب اسلامي افغانستان امیر هغوي ته دډاډګرني ترورکولو وروسته دنوموړو سیمو دمشکلاتو درفع کیدوپه باب دحزب اسلامي اداروته لازم هدایات ورکړل .

پاکستان با

طي سفرچهارروزه اش به قاهره باحسني مبارك رئیس جمهور مصر روي مسایل وموضوعات مختلف دیداروگفتگوکرد .

حسني مبارك درگفتگوهایش ازتلاش هاي وزیرداخله پاکستان درامرجستجو ودستگیري عاملان انفجاربم درسفارتخانه قاهره مقیم اسلام آباد که چندي قبل صورت گرفت اظهارخرسندي وقدرداني نمود .

اسلام شاهد یك دوره

این گزارش مي افزاید : به عقیده مسلمانان ،موج بي سابقهٔ گرایش به اعتقادات مذهبي به عنوان یك واکنش فزاینده نسبت به هجوم فرهنگي غرب تلقي مي شود .

درعین حال مسلمانانیکه ازکشورهاي اسلامي به کشورهاي مسیحي مهاجرت میکنند اعتقادات خودرا نیز باخود به همراه مي برند .

به اعتقاداین شبکه تلویزیوني ،هم اکنون بسیاري ازسیاه پوستان امریکادرنقاط مختلف دنیابه ارتباط بین اسلام وافریقا به شدت علاقه مندشده اند.

سي ان ان مي افزاید این نکته که دراسلام مفهومي به نام نژاد وجود خارجي ندارد ومسلمانان یکدیگررا نه به عنوان سیاه وسفید بلکه به عنوان اعضاي مسلمان وهمسان یك جامعه مي شمارند ، باعث علاقهٔ بیش ازپیش آنها به این مذهب الهي شده است .

امروز به طورفزاینده اي به مذهب به عنوان یك عامل سیاسي و اجتماعي بسیارمهم درسرتاسر دنیا نگریسته میشود.

به گزارش سي ان ان رشد فزاینده گرایش به اسلام باعث نگراني غربي هایي شده است کــه اسلام رادیني حاکي ازخشونت میـدانند ولـي بسیاري ازمسلمانان تـلاش میکـنند تا با این تصورات موهوم وبي اساس مبارزه کنند . مسلمانانی که ازکشورهاي اسلامي به کشورهاي مسیحي مهاجـرت مي کنند اعتقادات مذهب خود رانیز باخود انتقال میدهند . سي ان ان مي افزاید این مسلمانان ازدنیاي غیرمسلمان مي خواهند تابه اسلام همانگونـه بنگرندکه خود مسلمانان مینگریم

دیني خاطرنشان ساخـت : هم اکنون درمیان مسلمانان به عقاید وانگیزه هاي دیني بیش ازپیش ارج نهاده مي شود واسلام ،شاهدیك دوره شکوفایي دوباره است .

یکي ازدانشمنداني کــه در مصاحبه بااین پروگرام شرکت کرده بود، اظهارداشت ماه رمضان به تدریج جایگاه خاصي دربین مسلمانان بازکرده است ومسلمانان باذوق وعلاقه ئي بسیار بیشتر ازگذشته به ترتیبات وانجام عبادت خاص این ماه روي آورده اند .

«سي ، ان ، ان » به نقل ازکارشناسان گفت: رمضان جزیي ازیك جریان پرمایه وغني است که درآن اعتقادات وانگیزه هاي مسلمانان ازهرزمان دیگرجدي ترتلقي میشود .

به گزارش این شبکه تلویزیوني ، درکشوراندونیزیا کــه بیشترین جمعیت مسلمانان دنیا درآن جاي دارند تمامي رستوران هاوغذا خوري هاپنجره هاي خودرا پوشانیده اندتامبادانگاه روزه داران به درون این اماکن بیفتد وبراي شکستن روزه خود د چاروسوسه شوند .

سي ان ان مي افـزایـد : مسلمانان بوسنیا که تاپیش از جنگ چهارساله بالکان هویت مذهبي و اعتقادي آنها درسطح منطقه بالکان ودنیا چندان مطرح نبود، اکنون مراسم مذهبي خودرا به نحوبي سابقه ئي درنهایت عشق وعلاقه انجام میدهند. بــه گـونه ئي که اجتماع مسلمانان سارایبو درروزعیدفطرامسال تاکنون بي سابقه بوده است .

قراراین گزارش درمصروسرزمین هاي اشغالي نیز برخلاف چندسال گذشته توجه به ماه رمضان جدي ترشده ودرفلسطین به هنگام سحرنوجوانان باصداي طبل مردم رابراي خوردن سحري ازخواب بیدارمیکنند.

طی دوهفته اخیر (۱۱۰۰)

بهانه جلوگیري ازعملیات شهادت طلبانه مبارزان فلسطیني ازاوایل ماه مارچ جاري مناطـق خودگردان غزه وکرانه باختري راهمچنان درمحاصره دارند که این امرجمعیت دوملیوني این دومنطقه رابا کمبودشدید مواد غذایي ودیگرنیازهاي اولیه مواجه ساخته است .

این درحالیـت که مبارزان فلسطیني همچنان تحت تاثیر دوجانبه نظامیان رژیم صهیونستي وپولیس تشکیلات خودگردان قرار دارند ودردوهفته اخیربیش از ۱۱۰۰ فلسطیني بازداشت شده اند .

چارمین مجمع علمای

دانستند.

ناطق نوري رئیس مجلس شوراي اسلامي ایران که درآخرین این نشست حضورداشت،طي سخناني برضرورت وحدت شیعه وسني وحل اختلافات طرف هاي درگیردرافغانستان ازطریق مذاکره تاکید کرد .

وي همچنین بااشاره به تلاشهاي ایران براي خاموشي جنگ درافغانستان به گروه هاي جهادي هوشدارداد که امریکا و دیگر نیروهاي بیگانه مایل نیستند حکومت بااثبات واسلامي درافغانستان ایجادشود وبه همین دلیل مسلمان کشي را درین کشوربراه انداخته اندکه اسلام تقویت نشود .

به قول وي درمجموع شرایط حاکم برافغانستان ایجاب میکندکه علاوه برتوجه کشورهاي همسایه به وضعیت داخلي این کشور در داخل افغانستان نیز قشرهاوگروه هاي مختلف براي برقراري صلح وآرامش درین کشورتلاش کنند ونزدیك شدن دیدگاه هاي علماي افغانستان به تحقق این هدف کمك زیادي خواهد کرد .

جوانان فرانسوی چندین عراده

درگزارش آمده است پولیس چندین نفررا دراین ارتباط بازداشت کرده ولي هنوزعلت شورش مشخص نشده است. جوانان فرانسوي هفته گذشته نیزدرمنطقه دیگري ازشهررنس یك پولیس ویك مامور اطفائیه راباپرتاب سنگ زخمي کردند.

اعلان

جنتري هاي جیبي سال (۱۳۷۵) خورشیدي باقطع وصحافت مرغوب جدیداً ازچاپ برآمده است .

علاقمندان مي توانند باقیمت مناسب ازعموم نمایندگي هاي توزیع «شهادت» آنرابدست آرند .

زیری زیری زیری

دغنی احمدزی دکولدن لوټس دفترلخوا

دغني احمدزي دفترډیرو کلونوپه شان سږکال هم بیت الله شریف تـه دتللو لپاره ټول سهولتونه برابرکړي هغه افغاني وروڼه چې دتللو اراده لري ، زرترزره دي دنوم ثبتولو لپاره په لاندي آدرس تشریف راوړي .

آدرس : جهانګیرآباد - ستي تاورېلاك A منزل دوهم اطاق نمبر۲۰۳ .

ټیلفون نمبر (٤٥٥١١)

(۲ - ۱)